**مطبوعاتي اعلاميه**

**د حزب التحرير- ولایه سوډان یوه پلاوي له پروفیسور ابو صالح سره وکتل**

د حزب التحریر- ولایه سوډان یوه پلاوي د ۲۰۲۲م، د فبروري په ۱۰مه، له پروفیسور محمد حسین ابو صالح سره په سوډان کې د سیاسي بحران د حل په موخه وکتل. په دې لیدنه کې د حزب التحریر- ولایه سوډان د مرکزي اړیکو د کمېټې مشر استاد ناصر رضا محمد عثمان، د کمېټې د همغږۍ مدیر استاد عبدالله حسین او د کمېټې غړی استاد عبدالقادر عبدالرحمن هم مل وو.

د ناستې په پیل کې، پروفیسور محمد حسین ابوصالح د خپل ابتکار په اړه خبرې وکړې، چې څنګه کولای شي د اوسنیو اختلافاتو له امله په سوډان کې دننه د یوې حلارې له مخې هېواد له ټوټه ټوټه کېدو او همدا راز له استعمارګرو وساتي، چې غواړي د هېواد شتمني لوټ کړي. وروسته استاد ناصر رضا د هغو لویو شخړو په اړه خبرې وکړې، چې ښایي په هېواد کې پېښې شي او دا یې د محلي وسایلو څخه په ګټه اخیستلو یوه استعماري هڅه وبلله. له همدې امله، شخړې باید د اسلامي اعتقاداتو له زاویې مدیریت شي او معیار باید هېواد یا د واقعیت پر اساس تپل شوی چوکاټ نه، بلکې اسلام ونیول شي. اسلام موږ ته سیاسي نظام ټاکلی، چې هغه ډیموکراتیک تحول یا کوم بل شی نه، بلکې د خلافت نظام دی.

د ناستې په پای کې، دواړو لورو پرېکړه وکړه چې یوازې د اسلامي عقیدې پلي کول د فکر او پرمختګ اساس دی، د ناستې په پای کې د لا ډېرو اړیکو پر ارزښت ټینګار وشو.

**۱۴۴۳ هـ.ق، د رجب ۱۲مه**

**۲۰۲۲م، د فبروری ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۲۲/ ۱۴۴۳**

**ابراهیم عثمان (ابوخلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان ویاند**